# پښتو مرثیه په ملاکنډ کښې: یو تحقیقي جاج

# An exploratory review of Pashto Elegy in Malakand

Dr. Badshah.i.Room*
Mr. Shahbaz Muhammad*

**Abstract:**

Elegy is the ever first poetic genre composed by Adam (as) on the death of his son hoeed.at can be found nearly in all main language of the word elegy plays a vital role of keeping history preserve Pashto language has a valuable treasure of elegy it is written both in forth style and other .distt malakand contributed a lot in his fillip.

**Keywords**:Pakhto, Elegy, Poetry, Malakand

مرثیه د شرقي ژبو ډېر لرغونے او په زړهٔ پورې صنف دے۔ داسي وائي چې په انساني او ادبي تاریخ کښې د ټولو نه وړومبۍ مرثیه ادم علیه السلام د خپل زوي هابیل په مرګ وئیلي وه۔ دے خپل ورو قابیل وژلے وو۔ وائي چې دغه په سریانۍ ژبه کښې وه۔ مفسرینو دغه اشعار په عربۍ کښې داسي رانقل کړې دي۔

"تغیرت البلاد ومن علیها
فوجه الارض مغبر قبیح
تغیر کل ذي طعم وبون
وقل بشاشه الوجه الملیح
وهابیل اذاق الموت فاني
علیک الیوم محزون قریح"[1]

ترجمه: ټولې ښارئي او د هغې اوسیدونکي بدل شو۔ د زمکې مخ خړ سپېره او خراب شو د هر خوړ خېز او رنګین خیز خوند خوند او رنګ بدل شو۔ د مخونو ښکلا بدله شوه۔ اے هابیله!تا د مرګ مزه اوڅښله او په تا زما طبیعت ډېر خفه شو۔ اګر چې امام رازي او علامه الوسي ددې سره متفق نهٔ دي[2] خو بیا هم دا اشعار مشهور او مستندو تفاسیرو رانقل کړې

* Associate Professor, Department of Pashto, University of Malakand
* Ph.D Scholar, Department of Pashto, University of Malakand

دي۔نیزدې نیزدې د نړۍ په هره ژبه کښې د مرثیې مثالونه شته کومې چې شاعرانو د خپلو نزدې خپلوانو ،قامي مشرانو یا دوستانو په مرګ وئیلي دي۔

خدائے بخښلے ډاکټر اقبال نسیم خټک د مرثیې په بابله لیکي:

"مرثیه د عربۍ ژبې ټکے دے۔چې د رثا نه وتے دے د رثا مطلب د چا په مرګ اه وفغان کول،ماتم کول او ژړا کول انګولا کول دي"[3]

هم دغه تعریف د الفاظو په لږ ډیر بدلون سره فضل میر خټک هم په خپل کتاب فضلیات کښې دغه رنګ لیکلي دے[4].ډاکټر ګیان چند جېن د اردو د تنقیدي ادب او تحقیق لوړه نامه ده هغه لیکي:

*"رثا یا رثی کے معنی کسی کہ موت پر اہ وزاری کرنا ہے، عربی میں شاعری کے جو موضوع شمار کے گے ہیں۔ان میں رثا کو ہمیشہ شامل کیا گیا ہے۔عزیزوں اور محبوبوں کی وفات پر انسوں بہانے کے لے لکھی جاتی ہے۔وہ مرثیہ کہلاتی ہے"۔*[5]

د اردو ژبې یو بل پوهان پروفېسر انور جمال د مرثیې په حقله څه داسي لیکلي دي۔

*"مرثیہ تعزیتی نظم ہے۔اور موضوع کے لحاظ سے صنف شاعری ہے۔ اصطلاح میں مرثیہ اس نظم کو کہتے ہے جس میں شاعر کسی مرنے والے کا تعریف وتصوف کر کے اس کے خوبیوں کو اجاگر کر دیتا ہے"۔*[6]

ښاغلے میرحسن خان اتل لیکي"

"مرثیه چې پښتو کښې ورته ویرنه هم ورته وائي ،د شعري ادب هغه صنف ته وئیل کیږي په کوم کښې چې د یو قامي اتل،حکمران ،خان،شاعر، مذهبي مشر ،ښۀ سړي ،خپلو خپلوانو عزیزانو یا د کوم نزدې ملګري په مرګ د درد ،خفګان،افسوس او غم څرګندونه اوشي"۔[7]

د مرثیې نوم کۀ هرڅو د عربۍ ژبې دے خو چې مرثیه کله ایران ته رارسیدلي ده هلته ئي د نورو په نسبت زیاته وده موندې ده۔په ایران کښې زیاتره مرثیې د حسنېنواؤ د کربلا د نورو شهدانو سره د عقیدت پیرزوینې دي او هم دغه نسبت دے چې دغلته او د شیعه مسلک په نزد مرثیه د کربلا په واقعاتو ساندو وئیلي شي۔

"په هندي اريايي تهذيب کښې هم د مرثيې او نوحې رواج ډېر د پخوا راسې راروان دے. د هندوانو په زړو داستانونو کښې د رامائن او مهابهارت د دورې په ادبي اثارو کښې د مرثيې واضح مثالونه موجود دي."[8]

وئيلي شي په انګريزۍ ژبه کښې د مرثيې شروعات په شپږمه صدۍ ميلادي کښې شوي وو ښاغلے جې اې کډن ليکي:

In classical literature an elegy was any poem composed of elegiac distiches' (q.v) also known as elegiacs, and the subject were various: death, war, love and similar themes".[9]

ترجمه: په پخواني ادبياتو کښې هر هغه نظم چې د هغې بيتونه يا شعرونه په څۀ غم يا ماتم باندي جوړ کړې شي. دي تا ماتم يا ماتمي شعرونه وئيلے شي. موضوعات يې مختلف دي مرګ جنګ ، محبت او دغه رنګ نور.

مرثيه د نظم په هر هېئت کښې ليکلې کېږي . ددې په ليکلو هيڅ قيد نشته په پښتو کښې مرثيې په اولسي او کتابي دواړه قسمه شعري اصنافو کښې موندې شي. په اولسي اصنافو کښې چې کوم د ټولو نه مقبول او لرغونے صنف دے هغه د پښتو ټپه ده . پښتو ټپه چې د چا مړي په خفګان يا صفت کښې اووئيلې شي ،هغې ته ساندې وئيلې شي . او دا يو حقيقت دے چې په ټپه کښې د کوم چا مشرانو يا خپلوانو په مرګ او د هغه په پس منظر کوم څۀ وئيلي شوي دي هغه زمونږ د پښتني معاشرې يو نا ليکلې تاريخ دے. کۀ چرې دغه ساندې نۀ وې نو کېدې شي چې دغه واقعات نن دخلقو هېر وے. کله چې مستشرقينو د اولسي ادب په ليکلو کار پورې کړو نو هغوي داسې يو شمير ټپې ،سندرې، اوچاربيتې خوندې کړې چې په هغې کښې د پښتنو د خپلو منځني تربګنو په نتيجه کښې د مرګ ژوبلې هاغه واقعات محفوظ دي کوم چې مونږ ته د پښتني معاشرې سل کاله يا د هغې نه هم زيات پخواني منظر راښايي. په دغه قسمه مرثيو کښې د رانيزو د خان صحبت خان د مرګ ساندې خپل اهميت پخپله ښائي کوم چې مستشرقينو جېمزډار مستېټر په خپل کتاب د پښتونخوا شعروبهار کښې خوندې کړې او په کال ۱۸۸۸ء کښې خپرې کړې دي

"صحبت خان مړ ارمان يې او کړو
وادۀ مې نۀ کړو ترکاڼۍ په نشانونه"[10]

د صحبت خان د مرګ المیه د جون په میاشت کال ۱۸۶۹ کښې پېښه شوې وه[11] دغه رنګ د شېړو خانانو واقعه کومه چې خدائے بخښلي پروفېسر محمد نواز طاهر په خپل کتاب ټپه او ژوند کښې نقل کړې ده[12] د باجوړ د بخت منير او د کوپر د رحمداد خان مهمند د پچي ګرام د جګړې نوحه، د مامونۍ او شيرعالم واقعه او د دغه موقعو هاغه غاړې ساندې کومې چې زنانو وئيلي دي. هم دغه خدائے بخښلے طاهر په دغه کتاب کښې محفوظې کړې دي[13] دغه رنګ د امبيلې او ملاکنډ په غزاګانو کښې د شهيدانو په غم ډيرې ټپې موجود دي لکه د امبېلو د غزا کومه چې په کال ۱۸۶۳ کښې د فيرنګي او ددې سيمې د پښتنو ترمېنځه د اخون عبد الغفور المعروف سيدو باباجي په مشرۍ کښې شوې وه او د ملاکنډ د کال ۱۸۹۵ء او کال ۱۸۹۷ په غزاګانو کښې د شهيدانو په غم کښې وئيلي شوې ټپې مونږ ته د هاغه جنګونو ميدان نظر ته کوي

"په ملاکنډ يې توپې چل کړې

تر رنګ مالاپوري يې او شيندل ګلونه"[14]

دغه رنګ په اولسي اصنافو کښې چاربېته داسې صنف دے چې د بېلابېلو جنګونو لفظي انځورونه ئې محفوظ کړي دي او په هغې کښې يې د بلها شهيدانو نامې او کارنامې هم ښودلې دي. د اولسي شاعرۍ نه په پرته په پښتو کتابي شاعرۍ کښې هم د مرثيې روايت ښۀ زوړ دے تردې وختـه چې مونږ ته کومه وړومبۍ مرثيه په لاس راځي هغه شيخ اسعد سوري (وفات ۴۲۵ء) د امير محمد سوري په مرګ وئيلي وه-

"له فلک له چارو څۀ او کړم کوکار

زمولي هر ګل چي خاندي پر بهار"[15]

په روښانيانو کښې چې دولت فقير په کلام کښې مرزاخان انصاري يوه لنډه شان مرثيه موجود ده.[16] ستر پښتون مبارز او شاعر خوشحال خان خټک چې کۀ د نظم که د نثر له د خط دے په پښتو ژبه ئې حق دے بې حسابه ،پخپله دې دعوىٰ کښې رښتونے دے. د خوشحال بابا په کلام کښې هم مرثيه شته . يوه مرثيه هغه د خپل ځوي نظام خان په مرګ په کال ۱۰۸۶ء کښې وئيلي ده.

"په لحد کښې هغه مخ خورے په چينجو

چې د هيچا پېرزونه وه ځوانکه"[17]

د يو بل ځواني مرګ ځوي طاهر خان په مرګ ئې هم څلور مرثيې ليکلي دي. په يو بل ځوي بختناک، د هغۀ په کورودانې او زوي هم په خپل نمسي معظم چې بهرام خان زوے وو په مرګ هم په کال ۱۰۹۸ء کښې مرثيه ليکلې ده.[18]
د خوشحال بابا مشر ځوي اشرف خان هجري هم د خپل پلار په مرګ يوه اوږده مرثيه د قصيدې په شکل کښې وئيلې ده ، د مرثيې دغه قصيده په څوارلسم نمبر د مشتمله په احوال د قبله ګاه مرحوم "د عنوان لاندې د هغه په ديوان کښې شامله ده.[19] د خټکو د کورنۍ د پښتو ادب بل نوم عبدالقادر خان خټک هم د خپل پلار په مرګ دوه ژړونکي مرثيې وئيلې دي.[20]
په دغه کښې يوه مرثيه ئې د خپل پلار او بله ورارۀ معظم په مرګ ده[21] د پښتو صاحب ديوان شاعر مصري خان ګګيانړي هم د اپمل خان ګګيانړي او د حاجي قاسم او لښکر خان په مرګ مرثيې ليکلي دي[22] د مصري خان نه وړاندې رحمان بابا هم وئيلي ده چې

"خدايه څۀ شو هغه ښکلي ښکلي خلق
په ظاهر په باطن سپين سپېڅلي خلق"[23]

بله مرثيه زمونږ سره د پښتون مشر ميروس خان غلجي د هوښيارې لور مېرمن زينب ده . زينب د شاه محمود په مرګ هغه وخت دا مرثيه وئيلي وه کله چې د هغه دَ مرګ خبر قندهار ته اورسيده.

"ږغ سوچه ورور تېر له دنيا سونا
قندهار واړه په ژړا سونا"[24]

د علي خان په ديوان کښې هم مونږ ته مرثيه په نظر راځي

"آه سپرلے مې خزان په ناتار تېر شۀ
ما لا ګل ګل بوي کړے نۀ وو بهار تير شو
چې رخسار ئې د کفن په شويو وانغښت
رود د اوښکو د مهجور په رخسار تېر شۀ"[25]

په ديوان نجيب کښې هم دوه مرثيې په لاس راځې کومې چې د چا خپل رشته دار په مرګ وئيلي دي.د وړومبۍ مرثيې وړمبے شعر داسې دے.

"چې اواز مې ستا د مرګ تر غوږو تير شۀ
راښکاره راته خوږ ژوند زهرو ګنډير شه"[26]

د دویمې مرثیې اول شعر څه داسې دے
"ستا د هجر په اتش مې زړۀ کباب شۀ
چې په تا پسې د قبر پورے باب شه"[27]
د دغه مرګ نېټه د نجیب د یو شعر نه داسې ښکاره ده.
زرسل کاله پرې اتۀ اویا دپاسه
سن هجرپه دا وخت همره حساب شه[28]

د پښتو اکثر کلاسیکي شاعرانو په قامي مشرانو یا نزدې دوستانو باندې او یا خپلو رشته دارو په مرګ رقت امزې مرثیې وئیلې دي د ملاکنډ په سیمه چې خپلې ښېرازۍ په سبب ورته مونږ شاعر خېزه سیمه وئیلے شو د پخوا نه ښۀ ښۀ شاعران زېږدلي دي چې په هغې کښې د ځینو شاعرانو د کلام مقبولتیا هر قسمه سیاسي او جغرافیائي حدود مات کړې دي او نن سبا د نړۍ ګوټ ګوټ ته د هغوي د شعر خوږۀ رسیدلي دي نزدې نزدې د نظم او د نثر په هر صنف کښې خپل سپیځلي خیالات خوارۀ کړې دي. د موضوع په لحاظ د نظم په هر هئیت کښې دوې خپل زړه ته نزدې وګړو په مرګ ساندې هم وئیلي دي کومې چې په مختلف چاپو شعري ټولګو کښې خلقو ته رسېدلې دي. تردې وخته چې خالص د مرثیې کوم کتابونه چاپ شوي دي او خوارۀ شوې دي دهغوي دلته لنډ شان جدا جدا پېژندګلو کولې شي

1. مرګ دې زما د ارمانو مرګ دے:

راقم الحروف د خپل ایکي یو زوي محمد حارث عبدالرحمان په ناګهاني مرګ نهم اګست کال ۲۰۰۵ء چې کومې مرثیې لیکلي دي په مزکوره نوم په کتابي بڼه په جنوري کال ۲۰۰۷ کښې چاپ کړې اود هنر کور پښتونخوا نه خوره شوې ده، کتاب ترون د نړۍ دا واړو ماشومانو په نوم کړې شوې دے ، دا کتاب ټولې یو پنځوس صفحې لري په دې کتاب د پښتو ادب دوه نامور پوهانو خدائے بخښلي اقبال نسیم خټک "ایکي یو ځوي مرثیه"د سرخط لاندې او محترم رحمت شاه سائل د "تماشې چې ورانې شي"د سرخط لاندې لیکونه کړې قدرمند سائل صېب هم هغه وخت دا دوه شعرونه في البدیهه وئیلي وو کوم چې بیا د هغوي په ورپسې چاپ کتاب کښې د غزل په صورت چاپ شوې دي.

"ما د دنيا تماشه کړې ستا په سترګو کښې ده
بغير له تانه به ځنګ مياشتې د اختر ته ګورم
دبېلتانۀ په ځوانمرګو هېرو ورکه ياره
اوس خو زمانه هم ځان ورک شو تا به چرته ګورم"[29]

د ډاکټر اقبال نسيم خټک دغه ديباچه ډېره معلوماتي او علمي ده.

2. خاورو د ځان سره هر څۀ خاورې کړۀ

دا هم د راقم الحروف(شهباز محمد)د ليکلي مرثيو ټولګه ده. په فرورې کال ۲۰۱۸ء کښې د تاټې ادبي ټولنې نه خور شوې ده کتاب ټولې پنځه دبره سل صفحې لري د کتاب نوم د خپلې مرحومې لور فريال خان په نامه د ے څوک چې په ديرشتمه فرورۍ کال ۲۰۱۸ کښې ددې دنيا نه اخرت ته سفر تلې ده، په تېر کتاب د ډاکټر اقبال نسيم خټک په مرثيه علمي او معلوماتي مقاله او سائل صبب په زړۀ پورې ليک د خپل اهميت په سبب هم به دې کتاب کښې شامل دي کتاب ټولې يو کم ديرش مرثيې لري دغه واړه مرثيې د خپلو نزدې رشته دارانو په مرګ ليکلي شوې دي په دې کتاب کښې يو مرثيه د پښتو اردو فارسۍ ليکوال عبد الله جان شريف فاروقي په نوم او يوه بې نظيره بهټو ليکلي شوې ده دغه شان درې عربي مرثيې هم پښتو کښې منظوم ترجمه شوې دي او ددې کتاب ښائست ګرځېدلې دي . يوه حضرت فاطمه الزهرا رضي الله عنه د خپل والد محترم محمد مصطفيٰ صلي عليه وسلم په جدائۍ کښې وئيلې ده او دوه نورې مرثيې حضرت علي رضي الله عنه د خپلې بي بي فاطمې په جدائۍ کښې وئيلې دي. ددې نه علاوه دوه مرثيې د انګريزۍ ژبې چې يوه راقم الحروف پخپله او دوهمه پرفېسر جاوېداظهر د راقم الحروف د لور فريال خان په مرګ ليکلې ده . پنځه نورې مرثيې چې يوه ډاکټر شېرزمان سيماب،يوه د ديدار طاهر،يو د خدائے بخښلي پير هاشم صابر سر هندي ليکلې ده.د فضل سبحان ساجد او بله د محمد رېحان هغه ليکلې شوې مرثيې کومې چې دوي د راقم په زوې حارث عبدالرحمان ليکلې دي شاملې دي، په دغه مرثيو کښې ځينې دوي پخپلو کتابونو کښې چاپ کړې دي.

3. زمکې قلنګ دې زورور د ے:

خدائے بخښلي پروفېسر محمد اسلام ارماني په خپلو چاپ کتابونو کښې پوره يو کتاب د مرثيو هم چاپ کړے دے. په کال ۲۰۱۸ءکښې خور شوے دا کتاب ټولې يو سل او دولس صفحې لري. د کتاب ترون په دې ډول دے
د هغه ريښتنې مينې په نوم چې په جدايۍ ئې تر اوسه زما زړه پرهر پرهر، ټوټې ټوټې او درمند دے"کتاب ټولې اتۀ مرثيې لري ، څۀ د ازاد نظم او څۀ د پابند نظم په بڼه ليک دي. شپاړس پکښې قطعات دي . خدائے بخښلي اسلام ارماني د خپل ژوند په اخري ورځو شپو کښې پخپله هم سخت ناروغه وو او ددوه لويو غمونو سره هم مخ شوے وو. يو د خپلې کورودانې او دويم د خپل نمسي دانيال خان دغه غمونه هغه داسې په کټ پرېباسو چې بيا نۀ پاڅېدو.

4. سل دې اومره يو دې مۀ مره

د مرثيو دا مختصر کتاب د راقم الحروف دے. د شلوېښتو صفحو دا کتاب د اداره مطبوعات ملاکنډ له اړخه په کال ۲۰۲۲ء کښې خور شوې دے ،د کتاب ترون د تانې ادبي ټولنې د دوه پخوانو سرپرستانو خدائے بخښلے فقير شاه مسکين او خدائے بخښلے محمد نواز طاهر په نومونو کړې شوې دے . دا کتاب په خدائے بخښلي حميد الله خان ايډوکېټ د تانې ادبي ټولنې د ملګرو ليکلې شوو مرثيو ټولګه ده . حميد الله خان په دويشتمه جنورۍ کال ۲۰۲۲ء د هارټ اټېک په سبب ناڅاپي ددې دنيا نه سترګې پټې کړې دي . هغه يو بې لوثه سوشل ورکر وو . هغه د شاه خواه د هر چا په غم ښادۍ کښې شريک شوے دے .ناڅاپي مرګ ئې هر څوک ژړولي دي . تانې ادبي ټولنې پرې د مرثيو يو مشاعره راجوړه کړې وه . په مزکوره کتاب کښې د زرنوش شهاب ، پروفېسر صفدر خان ، شهباز محمد شهباز، ميا فضل حميد شاهين،فضل معبود صايم،شباب رانېزے ،نور محمد زاهد ،بخت زمين نګار،فضل سبحان ساجد ،او محمد نعيم رېحان مرثيې شاملې دي. د ملاکنډ په سيمه ځنې نور داسې کتابونه هم شته چې هغه ټوله په ټوله د مرثيو نه دي خو زياتره برخه ئې مرثيې دي، دلته د هغه قسمه کتابونو ذکر کولې شي.

1) ګلهائے چمن:

د فارسۍ ددې کتاب مؤلف تاښې د ګړهۍ د حضرت خېلو عبد الله جان مؤلف دے. د اتۀ اتيا صفحو دا کتاب په ۱۹۶۷ءکښې د اداره نقشبنديه ګړهۍ حضرت خېل تاښې له لورې چاپ شوې او خور شوے دے په دې کتاب کښې ښاغلي مؤلف د خپلو نيکونو خصوصاً د فضل احمد المعروف حضرت جيو په حقله د بېلا بېلو شاعرانو په فارسۍ کښې ليکلي شوې بلها مرثيې راغونډې کړې دي . په دې کښې يوه مرثيه په عربۍ ژبه کښې هم ده. ددغه فاروقي حضراتو د ډېرو بزرګانو او قطعات تاريخ وصال پکښې ښه زيات دي. په دي کتاب کښې ددغه کورنۍ د هجرتونو پحقله کافي مواد او معلومات موجود دي[30]

2) سرې وينې خلافتونه:

د تاښې ملاکنډ ايجنسۍ خدائے بخښلي کفايت الله جوهر دا کتاب په کال ۱۹۶۹ءکښې چاپ کړې دے. د کتاب په ټائيټل دا هم ليک دي "حضرت عثمان"حضرت علي او حضرت امير معاويه نه پس يزيدي حکومت تر شهداء حضرت امام حسن'' دا کتاب په څلور شپيته مخونو مشتمل دے د کتاب د ټائټل نه داسي برېښي چې ګنې دا به ټولې مرثيې وي خو داسي نه ده په دې کتاب کښې نعت قيصه د خلافت حضرت عثمان او په هغې کښې د کربلا واقعات ، واقعه ميا اله داد چشتي ، غزلې مصرعې ، نيمکۍ ،چاربېتي او په اخېره کښې د تاښې د ډاکټر شاکر الله په مرګ (د ۱۳ مارچ ۱۹۶۹) مرثيه ده

.

3) اوچه ببره شلېدلے ټال:

خدائے بخښلي محمد اسلام ارماني دا کتاب په پنځمه فرورۍ کال ۲۰۱۷ء خور کړے دے ټولې يو سل اتيا صفحې لري د پښتو د نومورې ليکوال ډاکټر خالق زيار په مړينه د پښتونخوا ټول شاعران غمژن دي ډاکټر خالق زيار ته خلقو منظومې او منثورې پيرزونې وړاندې کړې دي په دغه ترتيب دا کتاب دوه برخې لري ، نثر او نظم ، د جنازې په اوان د سترو شخصيتونو تاثرا ت د نثر حصه ده او د نظم په برخه کښې څوارلس شاعرانو په هغه مرثيې

وئيلي دي. په دې کتاب کښې اېمل خټک ،طائر بونېري ،ګل روز،اسلام ارماني ،همدرد اورکزے ،نيازک خان او مکرم خان صبا ليکلي مرثيې محفوظې دي د ظاهر شاه نګار تاثرات په اردو ژبه کښې ليک دي

4) د اقبال جان فن او ژوند:

د بټ خيلې اقبال جان مزاحيه شاعر وه او په عوامو مشاعرو کښې به ددهٔ کلام په سبب د خلقو په مخونو خندا خورېده چې وفات شو خلق ئې په غم کړه. دده په ژوند او فن ښاغلي فضل معبود صايم د تانې ادبي ټولنې له خوا په ستمبر کال ۲۰۲۰ءکښې يو سل او دولس مخونو کتاب خور کړو په ټائيټل ئې د اقبال جان تصوير ځليږي په کتاب کښې د اقبال جان په اړه د هغه د مينه والو تاثرات او مضامين شامل دي د ملګرو شاعرانو ليکلي مرثيې پکښې هم شته د قطعاتو نه علاوه په دې کتاب کښې چې د کومو شاعرانو مرثيې د اوږدو نظمونو په هئيت کښې شاملي دي په هغوي کښې پخپله د فضل معبود صايم، کامران پرواز،شېرزمان سيماب،علي اکبر سيماب ، محمد نعيم ريحان ،حاجي علي شاهد شامل دي.

د کربلا سانحه تر دې وخته د مسلمانانو زړونه ژوبل کوي د حسنېنو سره عقېدت د هر مسلمان خاصه ده کهٔ هغه د شيعه مسلک سره تعلق ساتي او که د سني مسلک سره ، د محرم په مياشت کښې په دغه اړه د لويو لويو مشاعرو انعقاد کولې شي ، په دغه حواله د مختلف چېنلونو او ريډيو سټېشنونو نه علاوه د دنيا په ګوټ ګوټ کښې ادبي تنظميونه د مشاعرواو مسالمو دستورې راجوړوي او د خوږ نبي صلي عليه وسلم د خاندان سره د عقيدت او مينې اظهار کوي ، چرته چې حسين د امن او يزيد د شر علامت ګرځولے شي. د ملاکنډ د سيمې شاعران په دې ميدان کښې هم د چا نه وروستو نهٔ دي پاتې شوي. په دې سيمه چې د مرثيو کومې شعرې ټولګې ترچاپه رسيدلې دي د هغوي لنډه پېژلو داسې ده

1) صابر امام

صوفي شاعر او د چشتي سلسلې پير خدائے بخښلے بابا عبدالحکيم قادري د ملاکنډ په سيمه خپله خاص پېژندګلو لري ، ددۀ زياته شاعري د تصوف ژورې نکتې چېړې د اهل بيتو سره مينه ددۀ په خټه کښې اغږلې شوې ده۔ صابر امام د عبدالحليم قادري بابا د نظم کتاب دے۔ د ځلورو اويا مخونو دا کتاب په کال ۱۹۹۹ء کښې ترچاپه رسېدلې دے. د کتاب تړون په دا ډول دے

"ددې کتاب تړون ما د حضرت امام حسن د سر شهداء سره د الله په نوم کړے دے مهربان رب دې پرې د قبول نظر اوکړي"[31]

د کتاب وړومبي شپاړس مخونه نعتونه دي او نور تر اخېره پورې د اهل بيتو مرثيې او منقبتونه دي ۔

2) برید

د شپېتو مخونو دا کتاب د شېرزمان سيماب شعري ټولګه ده په دې کتاب دپاسه دا سې ليک دي

"د کربلا په سانحه او اهل بېتو په عقيدت کښې منظوم تاثرات"

ظاهر ده چې په دې کتاب کښې هم په دغه موضوع نظمونه او قطعات شامل کړې شوې دي د کتاب ټول مشمولات د اهل بېتو سره عقيدت او هغوي قربانۍ ستايي.

شايد چې د پښتو نظم کښې به دا سې کم کوز کتابونه وي چې په هغې کښې د اهل بېتو سره د عقيدت پېرزونې نه وي يا بطور علامت د هغوي ذکر نۀ وي۔ شاعران په حقيقت کښې حساس ذهن لري د نورو خلقو په نسبت د خپلو خپلوانو او دوستانو يا قامي مشرانو مرګ په زړۀ محسوسوي او خپلو دغو احساساتو ته د الفاظو جامه اغوندي .دلته د هغه مرثيو او د هغوي ليکوالانو ذکر کولې شي ، د چا په کتابونو کښې چې هغوي خپلې ليکلې مرثيې ځاے کړې دي .يقينا" چې زياتو شاعرانو هم په دې صنف طبع ازمائي کړې ده او ښې ښې فنپارې ئې تخليق کړې دي خو د بده مرغه يا خو د هغوي څه کتاب نشته او يا کۀ وي نو کېدې شي چې زما د نظره نۀ وي تېر شوي.

د ملاکنډ د سیمې د شاعرانو لیکلې مرثیې دلته ذکرکولې شي ،دغه مرثیې څه په اولسي شعري اصنافوکښې تخلیق شوې دي او څه په کتابي شعري اصنافوکښې لیکلې شوې دي.

په بېلابېلو کتابونو کښې مرثیې:۔

عبدالله جان شریف:مرثیه برخوردارمطالب علم الغفار وفات ۲۵ دسمبر ۱۹۴۱ء[32]

مرثیه برخوردارم عبدالجلیل (فارسي وفات)**۱۳۹۹**هجري [33]

مرثیه د اهل بېتو او شهدا ئے کربلا[34]

زرنوش شهاب د محمد جمیل تاج شلماني په مړینه[35]

مرثیه بي بي مریم : از مولوي منهاج ، وفات ۱۹۴۷ء[36]

د امان یاد [37]

باچا به چرته وي[38]

ډاکټر صاحب شاه صابر[39]

د علي حیدر بدر په نوم باندې[40]

کربلا د سائل صیب په نورو کتابونو کښې مرثیې شته خو دا وخت دغه کتابونه زما په وړاندې نۀ دي[41]

پروفېسر غلام یوسف یوسف:ځواني مرګ شهید ته ( سیدوهاب ته ۲ مارچ ۱۹۶۳ء) [42]

د زاهد په یاد کښې ۔وفات ۵ مارچ ۱۹۷۲ء[43]

د خپل ځوي محمد اصف په یاد کښې وفات ۷ ستمبر ۱۹۹۲ء [44]

پروفېسر محمد اسلام ارماني:د حمزه بابا په یاد کښې [45]

ځلے : د محمد شریف ستانه دار په یاد کښې [46]

د فضل غني شهید په یاد کښې [47]

د فطرت د رنګینو شاعر یونس خلیل [48]

اے صابره قلندره :د ایوب صابر په یاد کښې [49]

د پښتو ژبې د نامتو سندرغاړې غزاله جاوید په مرګ[50]

د فضل غني غني په یاد کښې (دا مرثیه د وړاندې نه جدا ده)[51]

ډاکټر خالق زیار:۔د خیبر افریدي په یاد کښې [52]

د سرفراز لالا په مرګ[53]
د تاج العالم لالا په یاد کښې [54]
د پروفیسر ډاکټر صاحب شاه صابر مرګ[55]
د ملګري سالار په یاد کښې[56]
د بشیر بلور په یاد کښې [57]
پروفیسر فضل کریم ناشاد: د خدائے بخښلي پروفیسر عبد الحلیم مرثیه. وفات ۲۵ اکتوبر ۱۹۸۰ء[58]
پروفیسر محمد نواز طاهر صیب[59]
د ارمي پبلک سکول پېښور د شهیدانو په یاد کښې[60]
د کربلا شهیدانو ته[61]
د خدائے بخښلي شبر افضل خان چشتي په یاد کښې [62]
هاشم جان سرحدي: د شهباز محمد د ځوي "حارث" په مرګي[63]
امیر رازق امیر: د اجمل خټک بابا په مړینه د پښتو ژبې موسي کلیم الله [64]
پروفیسر بهرام زخمي: د خپل ورارهٔ ظفر اقبال د ځوي په مرګ[65]
د ایوب صابر په مرګ[66]
د اثاري ګل اثار په مرګ[67]
محمد اقبال اقبال: د خپل صاحب په مړینه[68]
سید امیر قاسم هاشمي: د حکیم محمد سعید په مرګ[69]
د ډاکټر صاحب شاه صابر په یاد کښې [70]
قاسم سرحدي: کربلا[71]
باچا خان[72]
علي محمد شاهد: زما اروښاد کشر ورور[73]
ډاکټر غني محمد[74]
ارمي پبلک سکول درد په ۱۲ ستمبر ۲۰۱۴ء[75]
دیدار طاهر: یادونه (شهباز محمد ځوي حارث عبد الرحمان مرثیه)[76]
میا فضل رحمان شاهد: د ایوب صابر په مرګ[77]

فضل رحمان فېضان ته[78]

د اثر افغاني په مرګ[79]

بخت زمین نګار :مرثیه د مور په مرګ[80]

روشن کلیم سرحدي:مورې خفه یم درنه[81]

سید محسن شاه محسن:د عظمت او ارم په نوم[82]

د صاحب شاه صابر په یاد کښې[83]

دارمي پبلک سکول پېښور د سانحې ۱۶ دسمبر ۲۰۱۶ په یاد کښې[84]

فضل معبود صایم: د خدائے بخښلي صاحب شاه صابر په مړینه[85]

د خدائے بخښلي اجمل خټک بابا په مړینه[86]

نعمت کبريٰ مرثیه د مور په مړینه[87]

د خپل خوږلن او محنتي پلار په مړینه[88]

فضل سبحان ساجد :حسین رض[89]

حضرت امام حسین[90]

عبد الماجد شهید[91]

عباس شهید[92]

حارث عبد الرحمان[93]

ښکلي مور[94]

ډاکټر خالق زیار[95]

پروفېسر محمد نواز طاهر[96]

پېغله استاذه[97]

د ولي محمد په یاد کښې[98]

شیر زمان سیماب: د مور خلے[99]

ارشد کریم شلماني:د حضرت محمد ر امو ړوال په وفات[100]

محمد نعیم ریحان:د فقیر شاه مسکین په یاد کښې[101]

د لېدي ډیانه په یاد کښې[102]

د انعام الهي انعام په مرګ[103]

نګين نګينه خانم: موري[104]

ددې نه علاوه هم د ملاکنډ د سيمې شاعرانو يوشمېر نورې مرثيې وئيلې او ليکلي دي کومې چې وخت په وخت په اخبارونو رسالو کښې خورې شوې دي. دغه شان د ناچاپو مرثيو ډېره لويه ذخيره شته دغه ذخيره د شاعرانو په قلمي کتابونو او مسودو کښې محفوظه ده. په دغه ناچاپه مرثيو کښې ښې ښې فنپارې موجود دي. بعضې پکښې د فيسبوک د لارې خورې شوې هم دي. پکار ده چې دغه ذخيرې را يوځا ے کړې شي او د پښتو شعري ادب دا قيمتي سرمايه محفوظه کړې شي .دغه مرثيې محض مرثيې نۀ دي بلکې پخپله لمن کښې ئې مقامي تاريخ هم محفوظ کړے دے. کوم چې عموما" د ليکلو نه پاتې کېږي او بيا څۀ موده پس هېر شي.

## حواله جات:

[1]:سعيدي غلام رسول،تبيان القران،ج ۸ ،سورت الشعراء زيروايت ۱۹۲ تا ۲۲۷،فريد بک سټال اردو بازار لاهور،الطبع اسابع،اپريل ۲۰۱۱،ص ص ۵۳۶،۵۳۷،عماد الدين کثير ،قصص الانبياء،مکتبه قرانيات،لاهور اکتبور ۲۰۱۳،ص ۲۲

[2]:بهتر الوي عبدالرازق،تذکره الانبيا مکتبه امام احمد رضا ص ۸۲

[3]:شهباز محمد ،خاورو د ځان سره هر څۀ خاورې کړۀ،ډاکټر اقبال نسيم خټک،ديباچه،تانه ادبي ټولنه ملاکنډ فروري ۲۰۱۸ء مخ ۱۱

[4]:خټک فضل مير ،فضليات،پخپله ، ۱۹۹۹ ،مخ ۳۷۸

[5]:گيان چند چين،ادبي صناف،اداره ثقافت اسلامه لاهور اپريل ۲۰۱۹ء،ص ۹۲

[6]:انورجمال،پروفيسر،ادبي اصطلاحات،نيشنل بک فاونډيشن اسلام اباد ،اشاعت پنجم جنوري ۲۰۱۹ء/ص ۱۶۱

[7]:اتل،مير حسن خان،د پښتو ادب هنداره،فهد پبليشنګ کمپني کوټه،۲۰۱۷،مخونه۱۰۹،۱۱۰

[8]:طاهر محمد نوار،پروفيسر،روهي ادب،پښتو اکېډمي پېښور پوهنتون دويم وار۱۹۸۶ء او مخ ۱۵۵

[9] *Cuddon,J.A, The Pinguin Dictionary of literary Terms and Literary, Pinguin Books, Great Britain, 1994, P272*

[10]:پلاوډون ټي جے سې،سرزمين سوات مزهبي سياسي پس منظر،اردو ترجمه،شهباز محمدشعيب سنز مينګوره مارچ ۲۰۲۳،ص ۷۰

[11]طائر،محمد نواز محمد ،ټپه او ژوند ،پښتو اکېډمۍ پېښور يونيورسټۍ ۱۹۸۰ء،مخ ۱۹۸

[12]: هم دغه مخونه ۱۹۶-۲۱۰

[13]:شهباز محمد ،د ملاکنډ غزګاني،پښتو څانګه ملاکنډ پوهنتون،۲۰۱۴،مخ ۸۹

[14]:محمد هوتک بن داؤد ،پټه خزانه،د پوهنې وزارت،د دار التائف،رياست دوهم دور ۱۳۹۰ ،هجري ش مخ ۴۰ محمد نواز طاهر روهي ادب مخ ۱۴۸

[15]:شهباز محمد ،خاؤرو د ځان سره هر څۀ خاورې کړۀ،ديباچه اقبال نسيم خټک مخ ۱۳

[16]:خوشحال خان خټک،ديوان خوشحال خان خټک،اوله حصه محکمه ثقاتف صبه سرحد سن نداره،مخ ۶۱۹

[17]:هم دغه اثر مخ ۲۸۰

[18]:هجري اشرف خآن،دیوان اشعف خان هجري،رتیب تحقیق او سمونه،د همېش خلېل پښتو اکېډمي پېښور یونیورسټي ۲۰۰۱،مخونه ۳۱۱-۳۱۳
[19]:عبدالقادر خان خټک،دیوان عبد القادر خآن خټک،تحقیق او ترتیب پروفېسر جهان زیب نیاز،پښتو اکېډمي پېښور یونیورسټي،دویم اشاعت ۱۹۶۶،مخونه ۲۴۸ ۲۴۹،۲۵۲،۲۵۳
[20]:عبدالقادر خان خټک،دیوان عبدالقادر خان خټک،تحقیق او ترتیب پروفېسر جهان زیب،نیاز،پښتو اکېډمي پېښور یونیورسټي،مارچ ۲۰۰۲ء مخونه ۲۴۴ ،۲۴۵
[21]:شهباز محمد ،خاورو د ځان سره هر څۀ خاورې کړۀ،مخونه ۲۰،۲۱
[22]:عبدالرحمان بابا ،دیوان عبدالرحمان بابا ،مقدمه وترتیب میا سید رسول رسا ،یونیورسټي بک ایجنسي،پېښور ۱۹۷۶،ءمخ ۱۶۶
[23]:محمد هوتک بن داؤد ،پټه خزانه مخ ۱۸۸
[24]:علي خان،دیوان علي خان،شرحه او مقدمه،سید تقویم الحق کاکا خېل،پښتو اکېډمي پېښور یونیورسټي پېښور،دویمځل ۱۹۸۸ء،مخ ۹۵
[25]:نجیب،دیوان نجیب،ترتیب او تدوین،او دیباچه،خیال بخاري،پښتو اکېډمي پېښور یونیورسټي پېښور اول ځل ۱۹۷۲ء،مخ ۱۰۶
[26]:هم دغه مخ،۱۰۷
[27]:هم دغه مخ،۱۰۸
[28]:شهباز محمد ،مرګ دې زما د ارمانونو مرګ دے،هنر کور پښتونخوا ،جنوري ۲۰۰۷ءمخ ۵۰
[29]:شریف عبدالله جان فارقي،ګهګانړے چمن،اداره نقشبندیه،ګړهي حضرت خېل تهانړه،۱۹۶۷ء
[30]:قادري عبدالحکیم ،صابر امام،پخپله ۱۹۹۹ء
[31]:شریف،عبدالله جان فاروقي،افکار شرفي،اداره نقشبندي،ګړهي حضرت خیل تانړه،ملاکنډ ایجنسي ،ایضا خانقا نقشبندیه عید تحصیل میر علي شمالي وزیرستان سن نداده مخ ۱۱۰
[32]: هم دغه مخ۱۱۱
[33]:هم دغه مخ ۱۱۸
[34]:زرنوش شهاب،س بنجاري سندرې،تانړه ادبي ټولنه ملاکنډ ، جون ۲۰۱۶ء،مخونه ۱۴۰- ۱۴۲
[35]:سائل رحمت شاه،حالات چې اور وروې،پښتو ادبي جرګه ملاکند ،ستمر ۲۰۰۰ء،مخونه ۵۳-۵۴
[36] حواله شکېب ، عبدالظاهر ، مولوي منهاج او هغه ادبي کورنۍ، د افغانستان د علومو اکېډمی ۲۰۱۷ء ، ۸۹ مخ
[37]:هم دغه مخ مخونه ۱۰۹-۱۱۰

[38]:صابر ،صاحب شاه،ډکټ کليات، صاحب شاه صاحب،مخ ۴۵۶
[39]:سائل رحمت شاه،نرکس بيمار بيمار ،پښتو ادبي جرګه ملاکنډ ،اګست ۲۰۱۴ء،مخونه ۱۰۹، ۱۱۰
[40]:هم دغه اثر مخ ۱۹۸
[41]:يوسف غلام يوسف،پروفېسر ،سلګۍ،پخپله ۱۹۶۵ مخونه ۵۱- ۵۳
[42]:يوسف غلام يوسف،داؤد ،تانه ادبي جرګه ملاکنډ ، ۲۰۰۷مخونه ۱۶۸، ۱۶۹
[43]:هم دغه مخ ۱۹۸
[44]:ارماني محمد اسلام پروفېسر ،ياران هېڅنۀ وائي،پخپله،مارچ ۲۰۰۰ء مخون ۱۰۴- ۱۰۷
[45]:هم دغه مخونه،۱۰۸-۱۱۳
[46]:ارماني محمد اسلام پروفېسر ،اوس مازيګر پيغلې ګودر ته نۀ ځي،
[47]هم دغه مخونه،۲۶۸- ۲۷۱
[48]هم دغه مخونه ۲۷۲- ۲۸۰
[49]:ارماني محمد اسلام پروفېسر ،دا تۀ پۀ ځۀخفه ئې،پخپله،مارچ ۲۰۱۳ءمخونه ۱۶۲-۱۶۵
[50]:هم دغه مخونه ۱۶۶-۱۷۰
[51]:خالق زيار ډاکټر ،تلوسې، پښتو ادبي جرګه ملاکنډ دويم چاپ ۲۰۱۶ء مخ ۷۰
: [52]هم دغه اثر ،مخونه ۸۴، ۸۵
[53]:هم دغه مخونه، ۱۳۰، ۱۳۱
[54]:هم دغه،مخونه ۱۴۴، ۱۴۵
[55]:خالق زيار ،خپل رباب خپله نغمه،ملاکنډ ادبي کلتوري جرګه،۲۰۱۷ء،مخ ۱۱۹
[56]:هم دغه مخ ۱۶۱
[57]:ناشاد فضل کريم،پروفېسر ،پيئلے ملغلرے ،پخپله،دويم ځل ۱۹۸۳ء،مخ ۱۴۰
[58]:ناشاد فضل کريم، لونګين،شعيب سنز مينګوره،اکتوبر ۲۰۱۹ء، مخ ۲۶۷
[59]:هم دغه مخونه، ۲۷۰-۲۷۲
[60]:هم دغه مخونه،۳۸۸-۳۸۹
[61]:هم دغه مخ ۴۱۱
[62]:صابر هاشم جان سرهندي،شلېدلے ګرېوان،تانه ادبي ټولنه ملاکنډ ۲۰۱۰ء مخ ۵۸
[63]:امير ،امير رازق،څړيکه، پښتو ادبي جرګه ملاکنډ ،مئي ۲۰۱۶ء مخؤنه ۲۰-۲۲
[64]:بهرام زخمي پروفېسر ،د زړۀ پـه للمو کښې مسکې ګلونه،ناشر لقمان حکيم ۲۰۲۰ء مخ ۲۵۵

[65]:هم دغه مخ ۲۰۹
[66]:بهرام زخمي پروفیسر ،یوه څانګه ډرې ګلونه، (شوګیر خوړلن اهونه)ناشر لقمان حکیم، اګست ۲۰۲۰ء مخ ۸۷
[67]:اقبال محمد اقبال، جولی، پخپله ۲۰۱۶ء مخونه، ۱۷۴-۱۷۵
[68]:هاشمي امیر قاسیم سید ،چې للمې ګل شي، پښتو ادبه جرګه ملاکنډ ۲۰۱۳ء مخ ۱۲۰
[69]:هم دغه مخ ۱۹۹
[70]:قاسیم سرحدي، زېړۈن، شعیب سنز پبلېشرز ،مینګوره، ۲۰۰۹ء، مخونه ۲۸- ۲۹
[71]:هم دغه مخونه ۹۴-۹۵
[72]:شاهد علي شاهد ،خندا په تراړو شونډو ، تانه ادبي تولنه ملاکنډ ،۲۰۱۹ء،مخونه ۲۴-۲۵
[73]:هم دغه مخ ۴۷
[74]:هم دغه مخ ۱۳۹
[75]:دیدار طاهر، اور په چینارونو ،پخپله اپریل ۲۰۱۰ء مخ ۱۳۷
[76]:شاهد میا فضل رحمان، ستوري په چینه کښې، همیشه ادبي تولنه رجسټر ملاکنډ اماندره، ۲۰۲۰ء مخ ۱۶۶
[77]:هم دګه مخونه ۱۷۳-۱۷۲ ، میاشتنۍ مجله پښتو جنوري تي جون ۱۹۹۰ء
[78]:هم دغه مخونه ،۲۰۱-۲۰۲ میاشتنۍ مجله پښتو جنوري تا جون ۱۹۹۰ء
[79]:نګار بخت زمین ،ستا دجمال رنګونه، تانه ادبي جرګه ملاکنډ ،۲۰۱۵ء،مخونه ۱۰۱-۱۰۸
[80]:سرهندي روشن کلیم، ځان سره خبرې کورې، ګران خپرونده ټولنه مینګوره، دسمبر ۲۰۱۲۱ء مخونه ۱۹۶-۱۹۹
[81]:محسن سید محس شاه، یادوني او دردونه، پښتو ادبي جرګه ملاکنډ ۲۰۱۶ء مخونه ۶۳-۶۴
[82]:هم دغه مخونه ۱۰۸-۱۰۹
[83]:هم دغه مخونه ۱۵۷-۱۵۸
[84]:صایم فضل معبود ، د سبا پلوشې، تانه ادبي ټولنه ملاکنډ ۲۰۱۶ء مخونه ۶۳- ۶۴
[85]:هم دغه مخونه ۶۵-۶۸
[86]:هم دغه مخونه ۱۴۱-۱۴۶
[87]:صآیم فضل معبود :لړۍ او وریځې، تانه ادبي ټولنه ملاکنډ ۲۰۱۹ء مکونه ۶۲-۷۶
[88]:هم دغه مخونه، ۱۶۲- ۱۶۴
[89]:ساجد فضل سبحان، یادونه او سودونه۔ تانه ادبي تولنه ملاکنډ جنوري ۲۰۲۲ء مخ ۹۸

[90]:هم دغه مخ ۱۱۹
[91]:هم دغه مخ ۱۲۴
[92]:هم دغه مخونه ۱۲۹-۱۳۰
[93]:هم دغه مخونه ۱۳۵، ۱۳۶
[94]:هم دغه مخونه ۱۷۵، ۱۷۶
[95]:هم دغه مخونه ۱۸۱، ۱۸۲
[96]:هم دغه مخونه ۲۰۳-۲۰۴
[97]:ساجد فضل سبحان،د وفا په لټون،پخپله اپریل ۱۹۹۵ء مخونه ۷۳-۷۴
[98]:هفت روز صدای ے سوات،۲۲۸ ستمبر ۱۹۹۲ء
[99]:سیماب شیرزمان ، د دار په سر،تاند ادبي ټولنه ملاکنډ ۲۰۱۰ مخونه ۱۸۱-۱۹۸۱
[100]:شلماني ارشد کریم،انګازې،تاند ادبي ټولنه ملاکنډ ۲۰۱۶ء مخونه ۱۱۶، ۱۱۷
[101]:ریحان محمد نعیم،د احساس په شور، تاند ادبي ټولنه ملاکنډ ۲۰۱۶ء مخونه ۱۱۶-۱۱۷
[102]:هم دغه مخونه ۹۳-۹۴
[103]:هم دغه مخونه ۱۳۸-۱۳۹
[104]:نګینه نګینه خآنم،داغونه او خالونه،بهادر کتباکور او دستار جنوري ۲۰۰۷ء مخونه ۴۰-۴۱

**References:**

1.Saeedi, Ghulam Rasu, Tibyan ul Quran, Jild 8, Sura Alshara , Ayat 192 ta 227, Farid Book Stal Urdu Bazar Lahore, April 2011,wa Imad ud Din Kaseer, Qasas Ul Anbiya, Maktaba uraanat¸lahore, October 2013, safaha 22
2.Bahtaralwe, Abdur Razzq, Tazkeera tul Anbiya Maktaba Imam Ahmad Ahmad Raza Safha 82
3.Shahbaz Muhammad, Khawro Da zan sara hr sa khawre krra, Thana Adabi Tolana Malakand, februry 2018, 11 Makh
4.Khattak, Fazal Mir, Pakhpala, 1991, 378 Makh
5.Giyan Chand, Cheen, Adabi Asnaf, Idara saqafat IslamiaLahore, April, 2019, Safha 92
6.Anwar jamal, Professor, Adabi Istilahat, National Foundation Islamabad, January 2019, Safha 161
7. Atal, Mir Hassan khan, Da pukhto adab hindara, Fahad Publishing Co, Quetta, 2018, 109, 110 Makhuna
8.Tair, Muhammad Nawaz, Professor, Rohi Adab, Pukhto Academy Paikhawar, 1986, 155 Makh
9: Cuddon, JA-The pinguin Dictionary Of Literary Terms and literary theory , pinguin Books, Great Britain, 1994, page 272
10.Mestaiter, jemse Dar, Da Pukhtoon khawa da sheir Haar o Bahar, Pukhto Tolana Kabul, 1356 Hijri, 145 Makh
11. Pladawon, TJC, Sar zamin swat Mazhabi siyasi Pasmanzar, Tartuma Shahbaz Muhammad, Shuaib sons Mingora swat, March, 2023, Safha, 70
12. Tair, Muhammad Nawaz, Professor, Tapa aw jawand, Pukhto Academy Paikhawar, 1980, 198 Makh
13. Humdagha, 196, 210 Makhuna
14.Shahbaz Muhammad, Da Makand Ghazagany, Pukhto Sanga Malakand Puhanton , 2014, 89 Makh
15.Muhammad Hutak bin Dawood, Patta Khazana, da Puhany wazarat Darutalif reyasat, 1390 hihri,40 Makh
16. Khawro Da zan sara hr sa khawre krra az Shahbaz Muhammad, 13 Makh
17. Khushal khan Khattak, Dewani Khushal khan Khattak, Mukama saqafat Suba sarhad, S.N, 619 Makh
18. Hudagha Asar , 280 makh
19.Hijri, Ashraf Khan, Dewan Ashraf khan Hijri, Hamaish Khalil, Pukhto Academy Paikhawar University,2001, 313, 311 makhuna
20. Abdul qadar khan khattak, Hadeeqa khatta, , Muratiba Said AAnwar ul haq , Pukhto Academy Paikhawar University, 1966, 248, 249, 252, 253 Makhuna
21. Abdul qadar khan khattak, Jehanzeb Niyaz, 2002, Pukhto Academy Paikhawar University, , 244, 245 makhuna
22. Khawro da zan sara hr sa khawri krra , Az Shabaz Muhammad , 20, 21 makhuna

23.Abdur Rahman Baba, Dewan Abdur Rahman Baba, Murtiba Said Rasul Rasa, Unversity book Agency Peshawar, 1986, 166 makh
24. Patta khazana Az Muhammad Hutak bin Dawood, 188 makh
25. Ali khan, Dewan Ali khan , Pashto academy University of Peshawar,1988, 95 Makh
26.Najeeb, Dewan Najeeb, Muratiba Khyal Bukhari, Pashto academy University of Peshawar,1982, 106 Makh
27. hum dagha , 107 makh
28 . hum dagha , 108 makh
29. Khawro Da zan sara hr sa khawre krra az Shahbaz Muhammad, 50 Makh
30. Sharif ullah jan Faroqi, Ghgany chaman , idara naqshbandia , than, 1967,
31. Qadari, Abdul Hakim, Sabir Imam , 1999,
32. Sharif ullah jan Faroqi, Afkari Sharifi , idara naqshbandia , than, S.N , 110 makh
33. hum dagha , 111,
34. hum dagaha, 118
35.Zar Nush Shahab, Da Banjari Sandari, Tanna Adabi Tolana, 2016, 140, 142 Makhuna
36. .Shakaib, Abdur Zahir, Mawlawi Menhaj aw da hagha adabi koranai, da Afghanistan da ulomu Academy , 2017, P89

37Sail , Rahmat shah , Halaat che owr warawe, Pukhto Adabi Jarga Malakand, 2000, 53, 54 Makhuna
38. Hum dagha , 109, 110 makhuna
39. Sabir, sahib shah , Dr. Kulyat, Sahib shah sabir, 456 makh
40. Sail , Rahmat shah , Nargas bemar bemar, Pukhto Adabi Jarga Malakand, 2014, 109,110 Makhuna
41.Yousaf, Ghulam yousaf, Professor, Salgai, 1965, 51, 53 makhuna
42. Yousaf, Ghulam yousaf, Professor, Dawo, tanna Adabi jarga Malakand , 2007, 168, 169 makhuna
43. hum dagha , 198 makh
44. Armani, Muhammad Islam, Professor, Yaran Hes na wayei, 2000, 104, 107 makhuna
45. Humdagha, 108, 113 makhuna
46. Armani, Muhammad Islam, Professor, Os mazigar Paighly godar ta na zi, 2011, 265, 267makhuna
47. hum dagha 268, 271,
48. Humdagha 272, 280
49. Armani, Muhammad Islam, Professor, Da ta pa sa khafa ye, 2013, 162, 165, 267makhuna
50. humdaha ,166, 170 makhuna

51. Khaliq ziyar , Talwasy, Pukhto, adabi jarga malakand, 2016, 70 makh
52. Humdagha asar, 84, 85 makhuna
53. Humdagha asar, 130, 131 makhuna
54. Humdagha asar, 144, 145 makhuna
55.khaliq ziyar, Khapa Rabab khapala naghma, Malakand adabi kaltori jarga, 2017, 119 makh

56.hum dagha , 161 makh
57.Nashad, fazal karim,Peyaly malghalari, 1983, 140, makh
58. Nashad, fazal karim, Lawangeen , Shuaib sons, 2019, 268, makh
59.hum dagha, 270, 272 makhuna
60. hum dagha 388, 389 makhuna
61. hum dagha 211 makh
62. Sabir, Hasham Jan, Sarhindi, Shlaidaly graiwan, Tanna Adabi tolana, malakand, 2010, 58 makh
63.Amir Razzaq Amir, Srreka, Pukhto adabi jarga Malakand, 2016, 20,22 makhuna
64.Bahram zakhmi, Professor, Da zrra pa lalmu k muski gulona, Luqman Hakim, 2020, 255
65. hum dagha 255 makh
66. Bahram zakhmi, Professor, yawa sanga dary gulona, luqman hakim , 2020, 87 makh
67.Iqbal, Muhammad Iqbal, Julai , 2016, 174, 175 makhuna
68. Hashami ,Amir qasam Sayyed, che lalmi gul she, pukhto adabi jarga Malakand. 2013, 120 makh
69. humdagha, 199 makh
70. Qasim, Sarhadi, zaigun, Shuaib sons Publishers Mingora, 2009, 28,29 makhuna
71. humdagha, 94, 95 makhuna
72. Shahid, Ali shahid, khanda pa trarru shundo, tanna adabi tolana Malakand , 2019, 24,25 makhuna
73. humdagha 47 makh
74. humdagha 139 makh
75. Didar Tahir, owr pa chinarunu , 2010, 137 makh
76. Shahid, main Fazal Rahman, Stori pa cheena k, Hamaisha adabi tolana Amandara, 2020, 166 makh
77.Pukhto, Mian Fazal Rahman , Janury Ta June 1990 , 172,173 makhuna
78. Hum dagah 201,202 makhuna
79.Nigar, Bakht zamin, Sta da jamal ranguna, Tanna adabi jarga, 2015, 101, 108 makhuna
80. Sarhindi, Roshan kalim, Zan sara Khabri kawm, Gran Khaparandui tolana Mingora, 2021, 196,199 makhuna.
81.Muhsin, Sayyed Muhsin Shah, Yadawani aw darduna, Pukhto, Adabi jarga malakand, 2016, 63,64 makhuna
82. humdagha , 108, 109 makhuna
83. humdagha , 157, 158 makhuna
84. Saim, fazal Mabood, Da saba palwashy, Tanna adabi jarga , 2016, 63, 64 makhuna
85. humdagha, 65, 68 makhuna
86. humdagha , 141, 146 makhuna
87. Saim, fazal Mabood, Larray waryazi, Tanna adabi jarga , 2019, 62 to 76 makhuna
88. humdagha , 162, 164 makhuna
89. Sajid, Fazal Subhan, Yaduna aw soduna Tanna adabi jarga , 2022, 98 makh
90. humdagha , 119 makh
91. humdagha , 124 makh
92. humdagha , 129, 130 makhuna
93. humdagha , 135, 136 makhuna

94. humdagha , 175, 176 makhuna
95. humdagha , 181, 182 makhuna
96. humdagha , 203,204 makhuna
97.Sajid, Fazal Subhan, Da wafa pa Latoon, 1995, 73,74 Makhuna
98.Haft Roza Sadai Swat, 28 September 1992
99. Seemab, Sher Zaman, Da Dar pa Sar, Tanna Adabi Tolana Malakand, 2010, 181,182 makhuna
100. Shalmani, Arshad Karim, Angazy, Tanna Adabi Tolana Malakand, 2016, 180, makh
101. Raihan, Muhammad Naeem, Da Ihsas shoor, Tanna Adabi Tolana Malakand, 2016,116, 117 makhuna
102. Humdagha , 93,94 Makhuna
103. Humdagha , 138,139 Makhna
104.Nageen, Nageena Khana, Daghuna aw khaluna, Bahadar kitab koor , 2007, 40, 41 makhuna